آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۵/۰۹

# تر ټولو ښه مور

## د مور د ورځې په پلمه

یو کال واوښت، بیا د می میاشت ده چې کومه ورځ یې د مور د ورځې په نامه نومول شوې ده، په هر هیواد کې یې د لمانځلو نیټې توپیر سره لري، په ډنمارک کې د می په څوارلسمه نیټه لمانځل کیږي.
ما تیر کال په می میاشت کې د مور د درناوي په پار، د مور په باب د یوه ورک ماشوم خبرې، را اخیستې وې چې ښاغلي اجمل روهي په هنرمندانه ډول ژباړلې وې؛ سږ هم غواړم بیا د تولستوی هماغه خبرې یو ځل بیا را واخلم:

د مور د ورځې له پاره:

## څوک تر ټوله ښه ده؟

لیکوال: ل. ن. تولستوی،

ژ: اجمل روهي،

**«په کوڅه کې، د بیروبار په منځ کې، ماشومه ورکه شوې وه، مندې او چیغې وهې، مور لټوي  خلک له ماشومې پوښتي:**
**مور دې څوک ده و جینۍ؟**
**ماشومه په داسې حال کې چې اوښکې یې بهیږي، په ځواب کې وایي:**
**نو تاسې په دې نه پوهیږئ؟ زما مور هغه ده، چې تر ټولو ښه ده.»**

پای




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ